# په چا کې چې څلور خصلتونه وي هغه سوچه منافق دی او په چا کې چې له دغو څخه يو خوی هم وي په هغه کې د نفاق يو خوی دی تر دې چې پرې يې ږدي: کله چې خبرې کوي درواغ وايي او کله چې تړون وکړي ماتوي يې، کله چې وعده وکړي وعده خلافي کوي او کله چې شخړه وکړي کنځلې کوي

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «دا څلور ځانګړنې دي چې په چا کې وي منافق دی، او که له دغو ځانګړنو څخه يوه هم په کې وه، نو د منافقت يوه ځانګړنه به پکې وي تر دې چې پرې يې ږدي: کله چې خبرې کوي، دروغ وايي، کله چې وعده کوي، وفا پرې نه کوي، کله چې شخړه کوي سپکې سپورې وايي، او کله چې تړون وکړي نو خيانت کوي».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د څلورو ځانګړتياوو په اړه خبرداری ورکړی چې که په يو مسلمان کې سره يو ځای شي نو د دې ځانګړنو له امله به له منافق سره ورته والی ولري او دا په هغو کسانو تطبيقيږي چې دا ځانګړتياوې پرې غالبه وي، او په چا کې چې په نادره توګه وي هغه پکې شامل نه دي، هغه ځانګړتياوې دا دي: لومړی: کله چې په قصدي توګه درواغ وايي او په خپلو خبرو کې رښتينی نه وي. دويمه: کله چې تړون وکړي عمل پرې نه کوي او د مقابل لوری سره خيانت کوي. دريمه: کله چې ژمنه وکړي وفا پرې نه کوي، بلکې وعده خلافي کوي. څلورمه: کله چې چا سره شخړه کوي نو شخړه يې ډېره سخته وي او له حق څخه انحراف کوي او ورڅخه د منکريدو لپاره يې چل کوي، او تل باطل او دروغ وايي. نفاق د يو څه ښکاره کولو ته وايي چې خلاف يې پټوي او دا معنی په هغه شخص کې شتون لري چې دا ځانګړتياوې لري، او منافقت يې د هغه چا په حق کې دی چې خبري يې ورسره کړي، وعده يې ورسره کړې، امانتدار يې ګرځولی، شخړه يې ورسره کړې او يا يې ورسره کوم تړون کړی دی، نه دا چې په اسلام کې منافق دی؛ چې اسلام ښکاره کوي په داسې حال کې چې په پټه کافر وي، نو په چا کې چې لدې ځانګړتياوو څخه يوه وي، د منافق له خويونو څخه به پکې يو خوی وي تر دې چې پرې يې ږدي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66537

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee